# بنه او بد لالچ

**01-October-2020**



هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# ښه او بد لالچ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله          وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله          وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د سرورِ کائنات، مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: د قيامت په ورځ به د الله پاك د عرش د سوري نه علاوه بل سورے نه وي، درې کسان به د الله پاك د عرش په سوري کښې وي. عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه به کوم خلق وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: (1) هغه کس چې زما د اُمَّتي پريشاني لرې کړي (2) زما سُنَّت ژوندي کولو والا (3) په ما باندې کثرت سره دُرُود

شريف لوستلو والا. [1]

يا الٰہی گرمیٔ محشر سے جب بھڑکیں بدن　　دامنِ محبوب کی ٹھنڈی ہوا کا ساتھ ہو [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! 　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[3]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز كار كښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

۞ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ۞ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ۞ كه قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! 　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "ښه او بد

[1] ... البدور السّافرة فی امور الاخرة للسیوطی، ص ۱۳۱، حدیث: ۶۶۳

[2] ... حدائقِ بخشش، ص ۱۳۲

[3] (معجمِ کَبِیر سهل بِن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/٦، حدیث ۵۹٤۲)

**لالچ**". په دې بیان کښې به مونږ اورو: ژبه ئې په سینه را زوړنده شوه، حِرص څه ته وائي، د حِرص انجام، د مال د حِرص مصیبتونه، د لالچ طمعه، خراب حِرص نه د بچ کیدلو او د ښه حِرص اختیارولو طریقے. د دې نه علاوه به نور هُم د ډیرو اهمو معلوماتو اوریدلو سعادت حاصلوو. په ډیره توجه او د زړه په حاضرئ سره پورا بیان د اوریدلو کوشش اوکړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه د ډیرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!        صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## ژبه ئې په سینه را زوړنده شوه

مُفسرِ قرآن حضرت علامه احمد بن محمد صاوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په تفسیرِ صاوي کښې لیکلي دي چې: **بَلۡعَمۡ بِن باعُوۡرَاء** د خپل دور یو ډیر غټ عالِم، عابد او زاهد وو. هغه د اِسم اعظَم علم هُم لرلو. هغه به په خپل ځائے ناست وو او د خپل روحانیت په ذریعه به ئې عرشِ اعظم لیدلو. ډیر **مُسۡتَجَابُ الدَّعۡوَات** وو یعني دُعاګانې به ئې قبلیدلې، د هغه د شاګردانو شمیر هم ډیر زیات وو. مشهور دا دي چې د هغه په درس ګاه [یعني مدرسه] کښې د طالبِ علمانو د دواتونو شمیر دولس زره وو. چې کله حضرت سَیِّدُنا موسٰی عَلَيۡهِ السَّلام د "**قوم جبّارین**" سره جهاد کولو د پاره د بنـي اسرائیلو لښکر ځان سره کړو او روان شولو نو **بَلۡعَمۡ بِن باعُوۡرَاء** له د هغه قوم په ډیره ویره راغـے او عرض ئې اوکړو چې حضرت سَیِّدُنا موسٰی عَلَيۡهِ السَّلام ډیر غټ او طاقتور لښکر را روان کړے دے او په مونږه حمله کولو والا دے، هغوئي غواړي چې زمونږ خلق زمونږ د زمکو نه اوباسي او دا زمکې بني اسرائیلو ته ورکړي. نو ځکه (مَعَاذَ اللّٰه) تاسو د موسٰی عَلَيۡهِ

السَّلام د پاره داسې ښيرے اوکړئ چې هغوئي شکست اوخوري او بيرته لاړ شي. تاسو **مُسْتَجَابُ الدَّعْوَات** ئې (يعني ستاسو هره دُعا قبليږي) ځکه به ستاسو دُعا ضرور قبوله شي. **بَلْعَمْ بِن بَاعُورَاء** چې دا خبره واوريدله نو [د ويرې نه] اُورپيدلو او اوئې وئيل: تاسو له دِ خرابي وي، د خدائے پناه! حضرت سَيِّدُنا موسٰی عَلَيْهِ السَّلام د الله پاك رسول دے او د هغوئي په لښکر کښې د مومنانو او فرښتو ډله ده، زه هغوئي ته څنګه ښيرے کولے شم؟ خو د هغه قوم په ژړا ژړا دومره ډيره زاري اوکړه چې هغه په دې وئيلو **مجبوره** شو چې [زه به استِخاره اوکړم] د **اِسْتِخَارہ** کولو نه پس که ما ته اجازت مِلاؤ شو نو ښيرے به اوکړم. چې کله په **اِسْتِخَارہ** کښې اجازت ملاو نه شو نو هغه صفا صفا جواب ورکړو چې که ما ښيرے اوکړې نو زما دُنيا او آخرت دواړه به برباد شي. بل ځل هغه قوم **ډيرې زياتې قيمتي تحفے هغه له راوړې او د ښيرو کولو د پاره ئې ورته ډيره زياته زاري اوکړه. تر دې چې بَلْعَمْ بِن بَاعُورَاء په حِرص او لالچ کښې راغے او د مال په جال کښې اونښتلو او د هغوئي د خواهش پورا کولو د پاره تيار شو او په خپله خره سور شو او د ښيرو د پاره اووتلو.** په لاره کښې به بيا بيا د هغه خره اودريدله او بيرته به راګرځيدل او تښتيدل به ئې غوښتل خو هغه به په وهلو وهلو مخکښې بوتلله. تر دې چې الله پاك خرے ته د وئيلو طاقت ورکړو او خرے اووئيل: افسوس اے **بَلْعَمْ**! ته چرته روان ئې؟ اوګوره! زما مخې ته فرښتے دي او هغوئي زما لاره بندوي او زما مخ شا طرف ته اړوي. اے **بَلْعَمْ**! تا له دِ خرابي وي، ته به د الله نبـي او د مومِنانو ډلے ته ښيرے کوے؟ خو د **بَلْعَمْ بِن بَاعُورَاء** په سترګو د لالچ پټئ تړلے شوي وه، لِهٰذا د

خرے د خبر ورکولو باوُجود هم واپس نه شو او "حُسبان" نامې غر ته اوختلو او د حضرت سَیِّدُنا موسٰی عَلَيْهِ السَّلام لښکر ته ئې په غور کتل او ښیرے ئې شروع کړې. خو د خدائے شان اوګورئ چې هغه به ښیرے د حضرت سَیِّدُنا موسٰی عَلَيْهِ السَّلام د پاره کولې خو په ژبه به ئې خپل قوم ته ښیرے جاري شوې. قوم ئې چې دا حال اوليدلو نو هغه ئې ډیر ځل اوړټلو چې اے **بَلْعَمْ**! ته خو اُلټه [مونږ ته] ښیرے کوے. هغه اُووئیل: څه اوکړم! زه وائم هغه څه چې تاسو غواړئ خو ژبه مې بل څه وائې! بیا ناڅاپه په هغه د الله پاک قهر نازل شو او ژبه ئې را اووتله او په سینه ئې رازوړنده شوه . هغه وخت **بَلْعَمْ بِن بَاعُورَاء** خپل قوم ته په ژړا اووئیل: افسوس! زما دُنیا او آخرت دواړه برباد شو، زما نه اِیمان لاړو او زه د الله په قهر او غضب کښې ګرفتار شوم. ځئ لاړ شئ! نوره زما یوه دُعا هم نه شي قبلیدلے.[1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د بد لالچ انجام

**د دې** واقعے ذکر په سیپاره 9 **سُوْرَۃُ اَعْرَاف** آیت نمبر 175 کښې دے:

| | |
|---|---|
| وَ اتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِیْۤ اٰتَیْنٰهُ اٰیٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ | **مفهوم ترجمۀ کنزُ الاِیمان:** او اے محبوب دوئي ته احوال واوروه د هغه، چا ته چې مونږه خپل آیتونه ورکړي وو، نو هغه د هغې نه بالکل |

[1] ... تفسیر صاوی، پ۹، الاعراف، تحت الآیة: ۱۷۵، ۲/۷۲۷ملخصًا

**الشَّيۡطٰنُ فَكَانَ مِنَ الۡغٰوِيۡنَ ﴿۱۷۵﴾** (پ۹، الاعراف:۱۷۵)

اُووتلو، پس شيطان په هغه پسے شو نو هغه د ګمراهانو نه شو.

په تفسير صِراطُ الْجِنان کښې دي: يعنې که مونږه غوښتلے نو د نافرمانئ کولو نه محکښې به مو هغه منع کړے وے بيا به مونږ په هغو آيتونو باندې د عمل کولو په وجه هغه ته اوچته مرتبه ورکړے وے او د اَبرارو درجے ته به مو رسولے وے، مګر هغه خو دُنيا طرف ته مائله شو او هغه د دُنيا او **د دې** خوندونو ته په آخرت او د هغې په نعمتونو باندې ترجيح ورکولو کښي د خپل خواهش پيروي اوکړه.(1)

د **بَلْعَمْ بِن باعُورَاء** د لالچ سزا **الله** پاك داسې ورکړه چې د هغه حالت د سپي په شان شو چنانچه په سيپاره 9 **سُوْرَۃُ اَعْرَاف** آيت نمبر 176 کښې دي:

**وَ لَوۡ شِئۡنَا لَرَفَعۡنٰهُ بِهَا وَ لٰكِنَّهٗۤ اَخۡلَدَ اِلَى الۡاَرۡضِ وَ اتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الۡكَلۡبِ ۚ اِنۡ تَحۡمِلۡ عَلَيۡهِ يَلۡهَثۡ اَوۡ تَتۡرُكۡهُ يَلۡهَثۡ ؕ** (پ۹، الاعراف:۱۷۶)

**مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِيمان:** او که مونږه غوښتلے نو د آيتونو په سبب به مو هغه اوچت کړے وے خو هغه زمکه اونيوله او د خپل خواهش تابع شو نو د هغه حال د سپي په شان دے که ته په هغه حمله اوکړې نو [هُم] ژبه را اوباسي او که پريږدې ئې نو [هُم] ژبه را اوباسي.

---

1 ... قرطبی، الاعراف، تحت الآیة: ۱۷۶، ۴/ ۲۳۰، الجزء السابع، مدارک، الاعراف، تحت الآیة: ۱۷۶، ص۳۹۵، ملتقطاً

# لالچ او نفساني خواهشاتو هلاك كړو

**خوېږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آيت كښې د **بَلْعَمْ بِن باعُورَاء** حال بيان شو، دا كس په فضل و كمال كښې داسې مرتبے ته رسيدلے ووچې د پخوانو كتابونو عالِم وو، د الله پاك اسمِ اعظم ورته معلوم وو، كومه دُعا به ئې چې كوله قبليده به، په خپل ځائے به ناست وو او عرش به ئې ليدلو، دولس زره طلباء به د هغه په درس كښې شريك كيدل او د هغه خبرې به ئې ليكلې.[1]

د فضل و كمال دومره لويه مرتبه لرلو والا كس چې كله د خپلو نفساني خواهشاتو پيروي اوكړه، د دُنيا د مال او د هغے د نعمتونو خواهشمند شو، آخرت او د هغے نعمتونه ئې شا ته غوزار كړل، آخر دا چې څه وركړے شوي وو هغه ټول ترينه واخستے شو، اِيمان ئې برباد شو او په دُنيا او آخرت كښې ناكامه او نقصان اوچتولو والا شو.[2]

ياد ساتئ! د مال او مرتبے حِرص د دِين د پاره ډير نقصاني دے او په ښه نيت اخستې شوي مال كښې الله پاك بركت هم وركوي څنګه چې:

حضرت سَيِّدُنا حكيم بن حِزام رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي: رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته ارشاد اوفرمائيلو: "اے حكيم! دا مال تر و تازه او خوږ دے، څوك چې دا په ښه

1... صاوی، الاعراف، تحت الآیة: ۱۷۵، ۲/ ۷۲۷

2... خازن، الاعراف، تحت الآیة: ۱۷۶، ۲/ ۱۶۰

نيت اخلي نو هغه ته په دې مال کښې برکت ورکولے کيږی او څوك چې دا د زړه په لالچ واخلي نو هغه ته په دې مال کښې برکت نه ورکولے کيږي او هغه د هٰغه کس په شان شي کوم چې خوراك اوکړي او مړيږي نه او (ياد ساتئ) پاسنے لاس د لانديني لاس نه بهتر دے."[1]

| | |
|---|---|
| بس رہوں طالبِ رضا یارب[2] | حرصِ دنیا نکال دے دل سے |

| | |
|---|---|
| طالب مې جوړ کړې بس دا ستا د رضا | له زړه مې اُوباسې حِرص د دُنيا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حِرص څه ته وائي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** عام طور دا ګنړلے کيږي چې د حِرص تعلق صرف د مال و دولت سره دے حالانکه داسې نه ده ځکه چې حِرص د هر څيز د زيات خواهش لرلو نوم دے او هغه څيز بل څه هم کيدے شي، که هغه مال وي او که بل څه وي. حضرت علامه عبدُ المُصطفٰی اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د لالچ او حِرص جذبه په خوراك، لباس، کور، دولت، عزت، شهرت الغرض په هر نعمت کښې کيدے شي.

---

[1] ... بخاری، کتاب الرقاق، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: ہذا المال خضرۃ حلوۃ، ۴/۲۳۰، الحدیث: ۶۴۴۱

[2] ... وسائل بخشش (مُرمَّم)، ص۸۱

په سيپاره 5 سُوْرۂ نِسآء آيت نمبر 128 کښې ارشاد **دې**:

| | |
|---|---|
| وَاُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ الشُّحَّ ؕ (پ۵،نسآء:۱۲۸) | **مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِيمان:** او زړه د لالچ په دام کښې [نښتے] دے. |

په تفسيرِ خازن کښې **د دې** آيت لاندې دي: "لالچ" د زړه لازمي حصه ده ځکه چې دا هُم داسې جوړ شوے دے. په اولادِ آدم کښې حِرص، لالچ او حسد دا درېواړه خيزونه ايښودے شوي دي او تر قيامته پورې به پکښې وي. [1] **د دې** درېواړو خيزونو يا د يو نه کاميابي هغه چا ته نصيب کيږي چا له چې الله پاك توفيق ورکړي.

چنانچه په قرآنِ کريم کښې ارشاد **دې**:

| | |
|---|---|
| وَ مَنۡ یُّوۡقَ شُحَّ نَفۡسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۚ﴿۹﴾ (پ۲۸،الحشر:۹) | مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِيمان: او څوك چې د خپل نفس د لالچ نه بچ کړے شُو نو هُم هغوئي کامياب دي. |

په تفسير صراطُ الجِنان کښې **د دې** آيت لاندې ليك دي: **د دې** آيت نه معلومه شوه چې د کومو حضراتو نفس د لالچ نه پاك کړے شوے دے هغوئي په حقيقت کښې کامياب دي او دا هم معلومه شوه چې د نفس د بد لالچ د بد عادت نه بچ کيدل ډير مشکل دي، په چا باندې چې د الله پاك خاص رحمت وي هم هغه **د دې** عادت نه بچ کيدے شي. دا عادت څومره نقصان ورکوونکے دے **د دې** اندازه **د دې** حديثِ

---

[1] ...المستطرف في كل فن مستظرف، الباب العاشر: في التوكل...الخ، ص

پاك نه لګیدے شي، د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: د ظُلم کولو نه اُویَریږئ ځکه چې ظُلم د قیامت تِیاره ده او د نفس د لالچ نه ځان ساتئ ځکه چې دغه لالچ ستاسو نه مخکښني اُمتیان هلاك کړل چې لالچ هغوئي ناحقه قتل کولو او حرام کار ته را اُوپارول.[1]

او د دې نه ځان ساتل څومره فائده مند دي، د دې اندازه د دې روایت نه لګیدے شي چې حضرت سَیِّدُنا عبدُ الرحمٰن بِن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْه د بیتُ الله شریف په طواف کولو کښې صرف دا دُعا غوښتله: اے الله! ما زما د نفس د حِرص نه اوساتے. چې کله هغوئي نه د دې په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغوئي اوفرمائیل: چې کله زه د خپل نفس د حِرص نه محفوظه اوساتلے شوم، نو نه به زه غلا کووم، نه به بدکاري کووم او نه کله ما داسې قِسم څه کار کړے دے.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خلقو د حِرص په معامله کښې مختلف حالتونه وي، څوك د مال حریص دے، څوك د زمکې او جائداد په حِرص کښې اخته دے، څوك د ګناهونو حِرص ړوند کړے دے، څوك د خپل شهرت د خواهش په حِرص کښې اخته دے. څنګه چې د دې بدو کارونو حریصان شته دے، دغسې د الله پاك داسې بندګان هم شته چې د هغوئي زړونه د نیکو د حِرص نه ډك دي، هغوئی د اُمَّت د

1 ... مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب تحریم الظلم، ص۱۳۹۴، الحدیث: ۵۶(۲۵۷۸)

2 ... تفسیر طبری، الحشر، تحت الآیة: ۹، ۱۲ / ۴۲

خیرخواهۍ حِرص بے قراره کړي دي او هغوئي د سُنَّت په خدمت او د اُمَّت په خیرخواهۍ کښې شپه او ورځ یوه کړي ده، په دې موجوده دور کښې چې اوګورۍ نو په دغه پاکیزه خلقو کښې اَمِیرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دامت برکاتهم العالیه هم شامل دے، چې د هغوئي زړه د دُنیاوي لالچ نه پاك دے، هغوئي پخپله هُم د نیکو حِرص لري او نورو ته هم د نیکو د حِرص ترغیب ورکوي، په هغوئي کښې د اُمَّت د خیرخواهۍ او د نیکو دومره حِرص دے چې دا خبره به صحیح وي چې د هغوئي یو کار هُم د نیکۍ او د نبـي کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دردمند اُمَّت د خیرخواهۍ نه خالي نه دے. د هغوئي ډیر عمر [یعني ضعیفه] کیدل هم د هغوئي د نیکۍ کولو په حِرص کښې رکاوټ نه دے بلکه هغوئي په دې عمر کښې هم په مدني چینل باندې د دِین د خدمت او د کتابونو او رسالو په تصنیف کښې مصروفه اوسیږي او د پرنټ او الیکټرانك میډیا په ذریعه خلقو ته د نیکۍ دعوت ورکوي. الله پاك دِ مونږ ته هم د هغوئي د نیك سیرت د دې نیکو عادتونو نه حصه راکړي او د هغوئي په علم و عمل او عمر کښې دِ برکت ورکړي. آمین.

## د حِرص قسمونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په انسان کښې چې د کومو څیزونو حِرص وي، په هغے کښې څه د ثواب باعِث وي او څه د عذاب، او بعضې صرف جائز وي چې په هغې کښې نه ثواب شته او نه عذاب. خو که هُم دغه جائز کارونه په ښه نیت اوکړے شي نو بنده د ثواب حقدار جوړیږي او که په بده اراده ئې اوکړي نو د اور د عذاب حقدار جوړیږي.

دغه شان حِرص هم درې قسمه دے: (1) ښه حِرص (2) بد حِرص (3) جائز حِرص، خو که په دې [جائز] حِرص کښې ښه نيت اوکړے شي نو دا حِرص به محمود (يعنې ښه) جوړ شي او که بد نيت پکښې اوکړے شي نو مذموم (يعني بد) به شي.[1]

که د الله پاك په رحمت او د هغه په توفيق سره لمُونځ، روژه، زکاة، حج، صدقه و خيرات، تلاوت، ذِکرُ الله، دُرُودِ پاك، د علمِ دِين حاصلولو، صله رحمئ، خيرخواهئ او د نيکئ د دعوت عام کولو او د نورو نيکو حِرص وي نو دا حِرص محمود (يعني ښه) دے- او که د خوراك څښاك، د زيات اوده کيدلو، د حلال مال جمع کولو، ځان له د ښکلي کور جوړولو، د تحفے حاصلولو، د ښکلي او ښه لباس اغوستلو او د نورو داسې کارونو حِرص وي نو دا حِرص مباح (يعني جائز) دے.

خُدانخواسته که څوک د نفس و شيطان په دوکه کښې راشي او د رشوت، غلا، بدنظرئ، بدکارئ، امرد پسندئ، د خپل صِفَت اوريدلو، د شهرت، د فلمونه ډرامو کتلو، د سندرو او سازونو اوريدلو، د نشے، جوارئ، د غِيبَت، تُهمَت، د چُغلئ، کنزلو کولو، بدګمانئ، د خلقو عيبونه لټولو او ښکاره کولو او د نورو ګناهونو حِرص لري نو داسې حِرص مذموم (يعني بد) دے.

## مونږ له کوم حِرص اختيارول پکار دي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حِرص درې واړه قسمونه زمونږ په وړاندې

---

[1] ... حرص، ص۱۳

بيان شو، اوس مونږ ته غور کول پکار دي چې په مونږ کښې کوم حِرص موجود **دې**، ياد ساتئ چې د دې حِرص رُخ بدلول زمونږ په اختيار کښې دي چې مونږه د خپل حِرص مخ د نيکئ کارونو طرف ته واړوو، مونږه د نيکو حريص جوړ شو او د ګناهونو مذموم او بد حِرص بالکل پريږدو ځکه چې بد حِرص سړے تباه کوي څنګه چې زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د لالچ نه ځان بچ ساتئ ځکه چې دا زر لاحِق کيدونکے **فَقُر** دے.[1]

## د ابِن آدم حِرص

د حضرت سَيِّدُنا انس بن مالك رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې د مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: که اِبنِ آدم سره د سرو زرو دوه دَرَے (يعني د دوو غرونو په مينځ کښي چې کوم ځائے وي هغه همره سره) هُم وي بيا به هُم د دريم خواهش کوي او د اِبنِ آدم خيټه صرف د قبر خاورې ډکولے شي.[2]

## د انسان حِرص نه ختميږي

علامه ابو زَکَرِيَّا يحيٰی بن شَرَف نَوَوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شرح مسلم کښې فرمائي: د حديث معنٰی دا ده چې انسان به د دُنيا لالچي اوسيږی تر دې چې د هغه مرګ راشي او د هغه خيټه صرف د قبر خاورې ډکولے شي.[3]

---

1 ...الزهد الکبير، ص۸۶، حديث: ۱۰۱

2 ... مسلم، کتاب الزکاة، باب لو ان لابن آدم ـــ الخ، ص۵۲۱، حديث: ۱۱۶

3 ... فيضان رياض الصالحين، ۲۷۸/۱ بحواله شرح مسلم للنووی، کتاب الزکاة، باب کراهة الحرص علی الدنيا، ۱۳۹/۴،

## ډير لالچي او بخيل

حضرت علامه مَلَّا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په دې حديثِ پاك كښې **د دې** خبرې خبردارے دے چې د انسان په فطرت كښې يو داسې بُخل وي كوم چې هغه لالچي جوړوي څنګه چې ارشادِ ا اِلٰهی **دے:**

قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَآىِٕنَ رَحْمَةِ رَبِّیْۤ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْیَةَ الْاِنْفَاقِؕ وَ كَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا (۱۰۰) (پ۱۵، بنی اسرائيل:۱۰۰)

**مفهوم ترجمۂ كنزُ الاِيمان:** ته اوفرمايه كه تاسو زما د رب د رحمت د خزانو مالكان وے نو هغه به مو هم [ځان سره] حصارې ساتلے، په دې ويره چې خرچ نه شي او انسان ډير شُوم [يعني كنجوس] دے.

د قرآن كريم په تفاسيرو كښې يو مشهور تفسير "**تفسير كبير**" كښې دي: دلته انسان ته د هغه د اصل په اعتبار غټ كنجوس وئيلے شوے دے ځكه چې انسان محتاجه پيدا كړے شوے دے او محتاجه انسان لازمي هُم دا څيز خوښوي او د خپل ځان د پاره ئې ساتي چې په دې ئې محتاجي لرې شي. او د انسان سخاوت د خارجي اسبابو په وجه وي لكه خپل صفت خوښول يا د ثواب اُميد ساتل. **د دې** نه ثابته شوه چې انسان د خپل اصل په اعتبار بخيل دے.(1)

---

الجزء السابع

[1] ... تفسیر کبیر، الاسراء، تحت الآیۃ:۱۰۰، ۷/ ۳۱۲

او دا آيت د اِبنِ آدم په ډير لالچي او بخيل کيدلو دليل دے، اِبنِ آدم د هغه مرغۍ نه هم زيات بخيل او لالچي دے کومه چې د سمندر په غاړه د دې ويرې د تَندې نه مړه شي چې چرته زما په څښلو اوبه ختمې نه شي او د هغه چينجي نه هم زيات بخيل او لالچي دے چې د هغې خوراك خاوره ده خو هغه [چينجے] **د دې** ويرې اوږے مړ شي چې چرته زما په خوړلو خاوره ختمه نه شي.[1]

**خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مال حِرص مذموم (بد) حِرص دے چې الله پاك د قرآنِ کريم په ډيرو آيتونو کښې **د دې** نه د بچ کيدلو او د مال د حِرص مذَمَّت فرمائيلے دے، بعضې ځائے کښې ئې فرمائيلي دي: اے اِيمان والؤ! نه ستاسو مال او نه ستاسو اولاد يو څيز دِ هُم تاسو د الله د ذِکر نه غافله نه کړي. بعضې ځائے کښې ئې فرمائيلي دي: مال ستاسو د پاره فِتنه ده، بعضې ځائے کښې ئې فرمائيلي دي: څوك چې د دُنيا ښائست غواړي مونږ به په دُنيا کښې هغه ته پورا بدله ورکړو، د مال سره محبت کوونکي په باره کښې ئې فرمائيلي دي: بےشکه هغه د مال په محبت کښې ضرور ډير سخت دے، خو د الله د نعمتونو د شکر او د هغه د ذِکر نه غافله دے.

حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مختلفو موقعو د مال د مذَمَّت په باره کښې فرمائيلي دي: د مال محبت په زړه کښې داسې نفاق پيدا کوي څنګه چې اوبه شين والے [يعني شين بُوټے] را زرغُونوي. زيات مال هلاك کوونکے او خپل مالك په بدو

---

[1] ... مرقاة المفاتيح، کتاب الرقاق، الفصل الاول، ۹/۱۲۴، تحت الحديث: ۵۲۷۳

خلقو کښې شاملوونکے دے. مال د آخرت د پاره د وبال [يعني مصيبت] سبب دے. د مال او مرتبے حِرص د انسان دِين ته **د دې** نه زيات نقصان رسوي کوم چې دوه اوږي شرمخان د چيلو رمے [کندړك] ته رسوي.[1] د مال يعني د درهم و دينار په بنده باندې لعنت کړے شوے دے.[2] او خوږ نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فرمائيلي دي: انسان بوډا کيږی خو د مال لالچ او د عمر زياتوالے [يعني د عمر د زياتوالي لالچ] ئې ځوانيږي.[3]

| | |
|---|---|
| دولت کی حرص دل سے اللہ دُور کر دے | عشقِ رسول دے دے یہ دعا کر رہے ہیں[4] |

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لالچي کس معبود

اے **عاشقانِ رسول!** واقعي حِرص او لالچ ډيره بده بلا ده، حضرت سَيِّدُنا امام محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د لالچي کس چې د چا نه لالچ وي لکه دے چې هغه خپل خُدائے جوړ کړي. بيا دے هغه سره دوستي کولو د پاره، هغه ته ځان ګرانولو او هغه ته رسيدلو د پاره په هره لاره ځي او د هغه د تهولو نه کم حالت دا وي چې دا د هغه د دروغو صفتونه کوي او [هغه ته] **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف** او **نَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر** (يعني د نيکئ حکم ورکول او د بدئ نه منع کول) پريږدي او د هغه په مخکښې د مداهَنَت نه کار اخلي (يعنې

1 ... ترمذی، کتاب الزهد عن رسول الله، ۱۶۶/۴، حديث: ۲۳۸۳

2 ... ترمذی، کتاب الزهد عن رسول الله، ۱۶۶/۴، حديث: ۲۳۸۲

3 ... مسلم، کتاب الزکاة، باب کراهة الحرص على الدنيا، ص۵۲۱، حديث: ۱۱۵- (۱۰۴۷)

4 ... وسائل بخشش مرمم، ص۲۹۹

حق خبره پټوي).[1]

## د لالچ ځلیدل

د اَمیرُ المُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا عَلِیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمان دے: د لالچ ځلیدل چې اُووِیني نو عقل اکثر وهل خوري. هُم د هغوئي فرمان دے: د سړو عقل شراب هم دومره نه خرابوي څومره ئې چې لالچ خرابوي.[2]

## د مال د حِرص وبال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** واقعي د لالچ څرک لیدلو سره اکثر عقل کار پرېږدي او دغسې لالچي کس په لالچ کښې راشي او د الله پاک د نافرمانۍ کولو او د هغه د نیکو بندګانو د مخالَفَت کولو نه هم ډډه نه کوي او په لالچ کښې د راتلو په وجه خپل دِین هُم پرېږدي او خپل آخرت خو هسې هُم برباد کړي ورسره ورسره په دُنیا کښې هم ذلیل و رُسوا شي.

*حِرص وہوسِ بَد سے دِل تُو بھی سِتَم کرلے تُو ہی نہیں بے گانہ دُنیا ہی پَرائی ہے* [3]

**د شعر مختصر وضاحت:** په دې شعر کښې اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل زړه ته مخاطب دے او فرمائي: اے زړه! د بد لالچ او حِرص سره چې څومره ظُلم کولے شي اوئې کړه ځکه چې صرف ته نا اشنا نه ئې بلکه ټوله دُنیا نا اشنا او پردئ ده او صرف په خپلو خواهشاتو پسې لګیدلي ده.

---

[1] ... احیاء العلوم، ۱۰۲/۳

[2] ... المستطرف فی کل فن مستظرف، الباب العاشر: فی التوکل...الخ، ص

[3] ... حدائق بخشش، ص۱۹۳ مکتبة المدینه کراچی

## د اوږد ژوند حِرص

د مال د حِرص نه علاوه يو حِرص د اوږد ژوند هُم دے چې **د دې** خواهش په دې دور کښې شايد هر يو کس په خپل زړه کښې لري، اوږده اوږده اميدونه او منصوبے جوړوي حالانکه الله تعالیٰ د مشرکانو د اوږد ژوند د خواهش مذَمَّت کړے دے، ارشاد فرمائي:

وَ لَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰی حَیٰوةٍۚ وَ مِنَ الَّذِیْنَ اَشْرَكُوْاۚ یَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ یُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍۚ وَ مَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ یُّعَمَّرَؕ وَ اللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا یَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾

(پ۱، البقرة:۹۶)

**مفهوم ترجمۂ كنزُ الاِيمان:** او بيشکه ته به ضرور هغوئي اوومې چې **د ټولو خلقو نه زيات د ژوند حِرص لري** او د مشرکانو نه يو خواهش لري چې کاش زر کاله ژوندے وے او هغه به هغوئي د عذاب نه بچ نه کړي که دومره عمر [هُم] ورکړے شي او الله د هغوئي (بد) عملونه ويني.

په **تفسير صِراطُ الجِنان** کښې **د دې** آيت لاندې چې څه بيان شوي دي **د هغې** خلاصه ده: اے حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **مجوسيان** مشرکان د زرو کالو ژوندي اوسيدلو تمنا [يعني خواهش] لري او يهوديان **د هغوئي** نه هم زيات دي چې د هغوئي د ژوندي اوسيدلو حِرص د ټولو نه زيات دے حالانکه دومره زيات عمر ورکول هم هغوئي د جهَنَّم د عذاب نه نه شي لرې کولے او الله پاك د هغوئي ټول اعمال ښه ويني او د هغوئي حال د الله پاك نه پټ نه دے. (1)

---

1... خازن، البقرة، تحت الآية:۹۶، ۱/۷۱

## د دُنياوي ژوند حريص څوك دي؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** کافر د دُنياوي ژوند حريص وي او د مرګ نه تنښتي او د مومِن شان دا دے چې که هغه ژوند غواړي نو صرف **د دې** د پاره چې زياتې نيکۍ اوکړي، د آخرت سامان جمع کړي او د آخرت سامان جمع کولو د پاره ژوند غوښتل د ژوند حِرص نه دے بلکه د آخرت تياري ده او دا ښه حِرص دے. خو دا ياد ساتئ چې اوګږد عمر او زيات مال د الله پاك د راضي کيدلو علامت نه دے بلکه دا خو بعضې وخت د وبال [مصيبت] ذريعه هم جوړيږي.

حضرت سَيِّدُنا ابوبکر صديق رَضِیَ الله عَنْه فرمائي چې يو کس عرض اوکړو: **يَا رَسُوْلَ اللّٰه**! په خلقو کښې د ټولو نه بهترين څوك دے؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د چا چې عمر اُوږد او عمل نيك وي. هغه کس بيا عرض اوکړو: په خلقو کښې د ټولو نه بد څوك دے؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د چا چې عمر اُوږد او عمل بد وي.[1]

حرصِ دنیا نکال دے دل سے　　بس رہوں طالبِ رضا یارب[2]

حِرص د دُنيا مې زړه نه اُوباسې ته　　طالِب مې کړې ستا د رضا يا رب

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

---

1. . . . ترمذی، کتاب الزہد عن رسول الله، باب منه، ۴/۱۴۸، الحديث: ۲۳۳۷
2. . . . وسائل بخشش مرمم، ص ۸۱

## هر حِرص بد نه وي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د مال د حِرص او د اوګږد ژوند د حِرص مُتَعَلِّق واوريدل، ياد ساتئ! هر حِرص بد نه وي، خو ښه کار يا بد کار طرف ته تلل زمونږ په اختيار کښې دي. مال نه خو مُطلقاً د نيکئ څيز دے او نه صرف د بدئ څيز دے، ځکه د مال ګټلو حِرص هم په هر صورت کښې بد نه دے. د زيات مال حِرص **د دې** د پاره ساتل چې د خپلو خپلوانو مدد به پرې اوکړي نو دا ښه حِرص دے خو د خلقو په مقابله کښې د فخر کولو د پاره داسې نيت کول بد دي. بهارِ شريعت جلد 3 صفحه 609 کښې ليک دي، د هغے خُلاصه ده: دومره ګټل فرض دي چې د خپل ځان، اهل و عيال د پاره يا د چا خرچه چې په ده واجب ده، په هغوئي د خرچ کولو دپاره او د قرض وغيره ادا کولو د پاره کافي وي، **د دې** نه علاوه چې مور و پلار ئې غريبان وي نو د هغوئي د پاره دومره ګټل چې هغوئي له کافي شي دا هم فرض دي. **د دې** فرض ګټې نه پس هغه ته اختيار دے چې په دې صبر اوکړي يا نور اوګټي او د مستقبل د پاره ئې اوساتي. او **مُستحَب** صورت دا دے چې د خپلو حاجاتو نه علاوه د فقيرانو مسکينانو د مدد کولو يا د خپلو خپلوانو د مدد کولو د پاره اوګټي، دا د **مُستحَب** او نفلي عبادت نه افضل دي. او **د دې** د پاره ګټل چې د مال و دولت زياتوالي سره به زما عزت او وقار زيات شي خو د فخر او تَکَبُّر نِيَّت ئې نه وي نو دومره ګټل مُباح دي. او که د ګټې مقصد ئې صرف د مال زيات والے يا فخر و تَکَبُّر وي نو منع دي.[1]

[1] ...الفتاوى الهندية، كتاب الكراهية، الباب الخامس عشر في الكسب، ج٥، ص٣٤٨، ملخصاً

## د حِرص نه د بچ کیدلو تدبیرونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** یقیناً د حِرص نه بچ کیدل ناممکن دي ځکه چې دا د انسان په خَټه کښې شامل دے. خو بد حِرص د نیکۍ په حِرص کښې بدلول کیدے شي. د بد حِرص نه بچ کیدلو د پاره ❖ د الله پاك په بارګاه کښې د حِرص نه د بچ کیدلو دُعا کوئ ❖ د مال د حِرص په نقصانونو غور کوئ ❖ صبر او قَناعت [یعني په لږ مال صبر کول] اختیار کړئ ❖ خپل خواهشات کنټرول کړئ ❖ په خپل رب باندې حقیقي تَوَکُّل کوئ او په خرچ کولو کښي میانه روي اختیاروئ ❖ اُوګږده اُمیدونه مه تړئ ❖ مرګ یاد ساتئ ❖ د حشر په میدان کښې د مالدارانو د حساب تَصَوُّر کوئ ❖ د سخاوت عادت جوړ کړئ ❖ د مال حِرص لرونکو خلقو عبرتناك انجام یاد ساتئ.

## د عبادت حِرص

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مال و دولت، منصب او شهرت او نور دُنیاوي څیزونو د بد حِرص نه بچ کیدل او د نیکو کولو حریص جوړیدل بے حده ضروري دي، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نیکو د حریص جوړیدلو تاکید کښي فرمائي: د هغے حِرص اوکړئ څه چې تاسو ته نفع [فائده] درکوي او د الله پاك نه مدد اوغوړئ، عاجزه کیږئ مه.[1]

---

[1] ...مسلم، کتاب القدر، باب فی الامر بالقوة...الخ، ص۲۳۴۱، حدیث: ۴۶۶۲

حضرت علامه شرف نَوَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك شرح فرمائي چې: د الله پاك د عبادت ډېر حِرص كوئ او په دې باندې د اِنعام ملاويدلو لالچ ساتئ خو په دې عبادت كښې هم خپل كوشش ته د طمع كيدلو كولو په ځائے د الله پاك نه مدد غواړئ.[1]

مُفسرِ قرآن حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليكي: په دُنياوي څيزونو كښې قناعت او صبر ښه دے خو د آخرت په څيزونو كښې حِرص او بے صبري اعلىٰ [يعنې ډيره ښه] ده، د دِين يوے درجے ته رسيدلو باندې قناعت [يعني صبر] مه كوئ، [بلكه] د مخكښې تللو كوشش كوئ.[2]

## د نيكو حِرص زيات كړئ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** خپل دا ذِهن جوړ كړئ چې ما له د نيكو حريص جوړيدل پكار دي، د نيكو حريص جوړيدلو د پاره (1) د نيكو د فضائلو مطالَعه اوكړئ ځكه چې انساني طبيعت هغه څيز طرف ته زر مائل كيږي په كوم كښې چې هغه ته فائده ښكاري بيا (2) د الله پاك د راضي كولو په نيت عمل كول شروع كړئ (3) په نيكو باندې استقامت حاصلولو د پاره ښه صحبت اختيار كړئ (4) څنګه چې د مال و دولت حِرص لرونكي خلق مالداران خلق خپل رهنما [آئيډيَل] جوړوي چې

---

[1]...حرص،ص۸بحواله مرأة المناجيح،۲۱۱/۷

[2]...حرص،ص۸بحواله مرأة المناجيح،۲۱۱/۷

ماله هم د هغوئي په شان مالدار جوړيدل پکار دي، دغه شان مونږ له پکار دي چې د نيکو جذبه زياتولو او په دې لاره کښې د راتلونکو مشقتونو برداشت کولو حوصله حاصلولو د پاره او نورو ښو ښو نيتونو سره بُزُرګانِ دين خپل رهبر جوړ کړو ځکه چې **د دې** پاکو خلقو ژوند يقيناً زمونږ د پاره راهنما اُصول دے. راځئ چې د ترغيب د پاره يو څو واقعات د اوريدلو سعادت حاصل کړو. چنانچه

## (1) د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْه شوقِ عبادت

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيرَه رَضِیَ اللہ عَنْه نه روايت دے چې نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اوکړو: نن په تاسو کښې چا روژه نيولې ده؟ نو حضرت سَيِّدُنا صِدِّيق اکبر رَضِیَ اللہ عَنْه عرض اوکړو: ما نيولې ده. بيا ئې تپوس اوکړو: نن په تاسو کښې چا په جنازه کښې شرکت کړے دے؟ نو هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْه عرض اوکړو: ما [په جنازه کښې شرکت کړے دے]. تپوس ئې اوکړو: نن په تاسو کښې چا په مسکين طعام خوړلے دے؟. هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْه عرض اوکړو: ما- ارشاد ئې اوفرمائيلو: نن په تاسو کښې چا د مريض تپوس کړے دے؟هغوئي رَضِیَ الله عَنْه عرض اوکړو: ما. نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: په چا کښې چې دا عادتونه جمع شي هغه به جنت ته داخليږي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** سُبْحٰنَ الله!سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ الله عَنْه د نيکو څومره حريص وو، الله پاك دِ د هغوئي په برکت مونږ ته هم دا جذبه را نصيب کړي.

---

[1] ...حرص ،ص،۲۸بحواله مسلم ،ص۳۱۵، حديث:۸۲۰۱

نہایت مُتّقی و پارسا صدیقِ اکبر ہیں تقی ہیں بلکہ شاہِ اَتقیا صدیقِ اکبر ہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2) په زخمي حالت کښې ئې هم لمُونځ اوکړو

په اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْه باندې د سحر د لمَانځه نه مخکښې په خنجر قاتِلانه حمله اوشوه، خو د سخت زخمي کیدلو باوُجود هغوئي د خپل ژوند د آخري ساه پورے د لمَانځه اهتمام کولو.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ښه صحبت اختیار کړئ

وائي چې صُحبت اثر لري ځکه د بهترین صُحبت حاصلولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره وابسته شئ. په خپل ښار کښې کیدونکي د دعوتِ اسلامي هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې شریك کیږئ او د **الله** پاک په لار کښې سفر کوونکو عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر کوئ.

## دولس مدني کارونو کښې یو مدني کار "هفته واره اجتماع"

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د عاشقانِ رسول مدني تحریك دعوتِ اسلامي مدني ماحول ښه صحبت ورکوي، **د دې** په برکت په لکونو خلقو د ګناهونو د ژوند نه توبه کړي ده او د نیکو

---

[1] ... مصنف ابن ابی شیبہ، ۸/۹۷۵، حدیث: ۲۱

ژوند تيروي. تاسو هم د دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښې شامل شئ او د خپلو مصروفياتو نه وخت اوباسئ او د ذيلي حلقے په دولسو [12] مدني کارونو کښې په اخلاص خپل کردار ادا کړئ او د ډير ثوابونو حقدار جوړ شئ. او خپل قبر و آخرت ښائسته کړئ. په دې 12 مدني کارونو کښې يو مدني کار "**هفته واره د سنتو ډکه اجتماع** " هم ده. تاسو هم په دې "**هفته واره د سنتو ډکه اجتماع** " کښې شرکت کوئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي زير انتظام کيدونکي "**هفته واره د سنتو ډکه اجتماع**"د زيارت په ورځ د ماښام د لمَانځه نه پس د **سورۀ مُلك** د تلاوت نه شروع کيږي. **بيا** نعت شريف لوستلے کيږي، بيا بيان کيږي، چې پکښې بيشميره قيمتي ملغلرے په لاس راځي. بيا ذِکر و دُعا او صلاة وسلام وي. **د دې** نه پس د ماسخُتن لمُونځ کيږي او د لمَانځه نه پس مدني حلقے لګي. په دې کښې په **مختلفو** موضوعاتو (مثلاً د ګناهونو په عذابونو يا د نيکو په ثوابونو مُشتمِل) **مختصر** بيان، يوه دُعا يادولے کيږي، او [د خپلو اعمالو] اجتماعي طور **محاسبه** کيږي. بيا د آرام وقفه وي ، خوش نصيبه عاشقانِ رسول د شپے اعتکاف کولو سعادت حاصلولو نه پس د تَهَجُّد لمُونځ هم ادا کوي، د سحر آذان نه پس صدائے مدينه، **جَمعې** سره د سحر لمُونځ، د لمَانځه نه پس په مدني حلقه کښې شرکت او بيا په مدني اِنعاماتو کښې [شامل مدني انعام يعني] د اشراق و څاښت د نوافلو سعادت حاصلولو نه پس په صلاة و سلام باندې اجتماع ختميږي. د اجتماع ختميدلو نه پس ډير عاشقانِ رسول د سنتو د تربيت مدني قافلو کښې د سفر کولو سعات حاصلوي. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلےواورو: چنانچه

## په کور کښې مدني ماحول څنګه جوړ شو؟

د لاهور د علاقے ملتان روډ يو اسلامي ورور څه داسې ليك راليږلے دے چې زه ډير بے فکره او د مست طبيعت والا ووم. تِفَن به مې [د ډول په شان] وهلو او د ماشومانو سندرې او د قَوَّاليانو نقلونه کولو کښې په ټول خاندان کښې مشهور ووم. واده او نورو پروګرامونو کښې به مې فلمي غزلے وئيلې، ګډا کول او خلق خندول زما عادت وو. يو عِمامے والا اسلامي ورور راته د "**د سنتو ډکې هفته وارې اجتماع**" دعوت پيش کړو. زه اجتماع ته لاړم، ډيره مزه ئې راکړه. دغسې ما په پابندئ سره [اجتماع] له تلل شروع کړل او خپلو نورو کلاس فيلو ملګرو ته مې هم دعوت پيش کړو هغوئي هم راتلل شروع کړل. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! ما د لمُونځونو پابندي شروع کړه. په قلاره قلاره مې عِمامه هم اوتړله، په دې باندې د کور بعضو کسانو سخت **مخالَفَت** اوکړو او بعضې وخت به ئې رانه **مَعَاذَ الله** عِمامه راښکله او د سره به ئې رانه لرې کړه، درس کولو نه به ئې منع کولم، زُلفے ئې را باندې په زور کټ کړے، خو **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د سُنَّتو ډکو بيانونو کيسټو اوريدلو سره مې اُميد او حوصله مضبوطه شوه. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! زمونږ کور کښې په قلاره قلاره مدني ماحول هُم جوړ شو، هغه د کور کسان چې د سُنَّتو ډکه اجتماع او مدني قافلو کښې د سفر کولو اجازت به ئې نه را کولو، هغوئي ما ته يکمشت [يعني په يو مخ] د دولسو مياشتو مدني قافله کښې د سفر کولو اجازت راکړو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** زمونږ کور کښې د اسلامي خويندو اجتماع شروع شوه او والد صاحب مې کيره هم پريښودله.(1)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

---

1 … غيبت کی تباه کارياں، ص۴۰۷، ملخصاً

# د هفته وارو اجتماعاتو د بیانونو اېپلي کېشن

## "اِسلامك سپيچز"(Islamic Speeches)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دعوتِ اسلامي آئی. ټي ډیپارټمنټ د ( Islamic Speeches) په نوم يو اېپلي کېشن جوړ کړے دے، **د دې** اېپلي کېشن په ذريعه تاسو **هفته واره اجتماع** کښې کيدونکي بيانونه د لېك په صورت کښې حاصلولے شئ. په دې کښې د اُردو نه علاوه انګلش، هندي، سندهي، پښتو، رومن، ډَچ [وغيره] ژبو کښې بيانونه موجود دي. او ورسره ورسره د خاصو موقعو په حواله شوي بيانونه هم په دې اېپلي کېشن کښې شامل دي. **د دې** بيانونو د مطالَعے سره د ډېر زيات علمِ دين زده کولو موقع نصيب کيږي. زر تر زره دا اېپلي کېشن انسټال کړئ او د دې ډېر ډېر برکتونه حاصل کړئ.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."(1)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا | جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډې خوږه آقا

---

[1] ...ابنِ عساكر ج ص

## د خوشبو سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د خوشبو د سنتونو او آدابو په باره کښې يو څو مدني ګلونه د اوريدلو سعادت حاصل کړو: اوَّل دوه فرامينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملاحظه کړئ: (1) فرمائي: لمُونځ زما د سترګو يخ والے جوړ کړے شوے دے.[1] (2) فرمائي: څلور څيزونه د انبياؤ عَلَيهِمُ السَّلام په سُنَّتو کښې داخل دي: نکاح، مسواك، حيا او خوشبو لګول،[2] ☆ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خوشبو تحفه نه رد کوله،[3] هميشه به ئې بهترينه خوشبو استعمالوله او نورو خلقو ته به ئې هم **د دې** تلقين کولو،[4] ☆ د جُمعے د لمَانځه د پاره خوشبو لګول مستحب دي،[5] ☆ په لمَانځه کښې د الله پاك نه مناجات کيږي نو **د دې** د پاره زينت **حاصلول** او عطر لګول مستحب دي،[6] ☆ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بدبوئي ناخوښه ګنړله، ☆ نارينؤ له په خپلو جامو داسې خوشبو لګول پکار دي چې خوشبو ئې خوريږي خو رنګ او داغونه وغيره ئې نه ښکاري، ☆ د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارك وو چې "مُشك" به ئې د سرِ اَقدَس په ويښتو مبارکو او په ګيره

---

[1] ... نسائی، کتاب عشرة النسآء، باب حب النسآء، ص۶۴۴، حدیث: ۳۹۴۵
[2] ... مشکاۃ، کتاب الطھارۃ، باب السواک، ۸۸/۱، حدیث: ۳۸۲
[3] ... سنتیں اور آداب، ص۸۵
[4] ... سنتیں اور آداب، ص۸۳
[5] ... بھارِ شریعت ۷۷۴/۱، حصہ ۴ملخصاً
[6] ... نیکی کی دعوت، ص۲۰۷

مبارکه کښې لګولو، ☆ د ائير فريشنر د استعمال نه بچ کيدل پکار دي.[1]

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب "سُنّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ دوه رسالے "101 مدنی پهول" او "163 مدني ګلونه" هديةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوکړئ. د سُنّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دے

[1]… سنتیں اور آداب، ص۸۳

چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې دا دُرُود

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

3... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مینځ کښېنولو، دے باندے صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك د اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چې د ووه وارِو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵